حبیب وقار

نیټه 10/02/2010

# د بهرنیانو چاپې او تلاشۍ کرکې پاروي

افغانان تر ډېره پورې د خپلو دودونو ډېر درناوی کوي او که چېرې یې څوک په دودونو ملنډې وهي او یا یې هم تر پښو لاندې کوي، نو دا کار ورته د زغملو نه دی. په افغاني دودونو او اسلامي شریعت کې دې ته اجازه نه شته چې څوک دې پرته له اجازې په نیمه شپه او حتی که ورځ هم وي د چا کور ته ننوزي. چې دا کار نن ورځ تر ډېرې کچې عام شوی دی او بهرنیان د افغانانو کورونو ته پرته له اجازې ننوزي او پرته له اجازې د کورونو تلاشي کوي، دوی د افغانانو دودونو او اجازې ته اهمیت نه ورکوي د دوی دودونه تر پښو لاندې کوي.

د پخواني شوروي ولسمشر ګورباچوف اوس اوس څرګندوي چې موږ د افغانانو دودونو ته د نه درناوي او د افغانستان د نه پېژندني له امله په دې هېواد کې ناکام شوو، نوموړی څو ځله امریکا او لویدیځو هېوادونو ته په دې اړه خبر ورکړ، چې تګلاره یې ناسمه ده او امریکا باید د دوی له ماتې څخه عبرت واخلي ځکه چې دوی په افغانستان کې د همدې ستونزو له امله داسې ماته خوړلې چې تر اوسه هم یې زخمونه نه دي روغ شوي.

سره ددې چې د خپل سرو عملیاتو، خپل سرو تلاشیو او چاپو له امله څو ځله د هېواد په کچه لاریونو او شکایتونه وشول خو دا لړۍ اوس هم په همدې ډول جریان لري او اوس هم د هېواد په ډېرو ولایتونو کې د شپې له خوا د کورونو دروازې ماتېږي او بیا پرته له اجازې د کور تلاشي کېږي که چېرې دوی ته د کور څښتن د اوپ قدرې څه هم ووایي دوی یې د کورنۍ، ښځو او ماشومانو په مخ کې د بې رحمه ټوپک د مرمۍ خوراک کوي.

که چېرې څوک پرې نیوکه وکړي بیا وایي چې طالب، مخالف، القاعده او یا هم د حکمتیار له ډلې څخه و، چې څو ورځې وړاندې یې د خاص ارزګان په ولسوالۍ کې د څو دکاندارانو او یو موټروان چې ټول ورونه و د خپلو ماشومانو او مېرمنو په وړاندې ووژل، چې هغوی ته هم د شپې مهال په درې نیمو بجو ورغلي و.

د همدې ستونزو په تړاو د جرمني د مونیخ په کنفرانس کې افغان ولسمشر حامد کرزي هم په بهرنیو ځواکونو غږ کړی چې نور دې په کلیو او کورونو چاپې نه وهي او نه دې هم کورونه په خپله خوښه تلاشي کوي.

نوموړي د جرمني په مونشن کې د نړیوالو ایتلافي ځواکونو له لوري د افغانستان پر کلیو د بریدونو د بس کېدو او د ملکي افغانانو د وژنو د پای ته رسېدو غوښتنه وکړه.

د نړیوالو ځواکونو له لوري د عملیاتو په وخت د عامو افغانانو تلفات او د شپې له خوا د کورونو تلاشۍ د دې لامل شوي چې افغانان، چې په پیل کې یې د نړیوالو ځواکونو د راتګ هرکلی کاوه، اوس له هغوی څخه کرکه وکړي.

لویدیځ څارونکي هم وایي چې دا مسئله د دې لامل کېږي چې خلک د طالبانو په خوا ودرېږي.

ولسمشر کرزي د جرمني د مونشن (مونیخ) کالني امنیتي کنفرانس ته په وینا کې ویلي: «موږ باور لرو چې د ترهګرۍ پر ضد د جګړې ځای د افغانستان کلي او کورونه نه دي. موږ باوري یو چې دا جګړه د افغانستان له پولې د باندې په هغو ځایونو کې ده چې ترهګر په کې پناه ځایونه لري، په کې روزل کېږي، د جګړې انګېزه ورکول کېږي او مالي مرستې ورته برابرېږي.»

د جرمني د مونشن په کنفرانس کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي ریچارډ هولبروک هم د افغان ولسمشر کرزي خبرې چې د شپې له خوا د تالاشیو او همدارنګه د چاپو مخه باید ونیول شي تایید کړې او زیاته کړې یې ده چې باید د افغان حکومت ملاتړ وشي نړیواله ټولنه له دوی سره مرسته وکړي، نه دا چې د حکومت د کمزورۍ لپاره یې کار وکړي.

کرزي په کلیو او بانډو کې د جګړې پای ته رسېدل د افغانانو لپاره لومړیتوب وباله، نوموړي همدا راز زیاته کړې چې، د شپې له خوا د افغانانو پر کورونو د چاپو او تلاشیو او په خپلو کورونو کې د افغانانو د نیونو پای ته رسېدل هغه مسایل دي چې افغانان ورته تر هر څه ډېر اهمیت ورکوي.

که چېرې بهرنیان د اتو کلونو مخکې جګړو او عملیاتو پایلو ته وګوري نو باید چې دا ډول وړاندیزونه په بشپړه توګه ومني او عمل پرې وکړي. ځکه چې په دې اته کاله مبارزه کې د بهرنیانو په اصطلاح د ترهګرۍ جګړه کې هېواد پرته له ورانیو، لوږو، وژنو، بې وخته تلاشیو، بمباریو او د افغانانو خوښۍ په غم بانډې اړولو پرته نور هېڅ هم نه دي شوي، که چېرې پرمختګ ته وګورو نظر د نړیوالې ټولنې ملاتړ او مرستو ته په هېڅ حساب دی، د همدې ستونزو له امله باید چې بهرنیان په دې اړه په بشپړه توګه له تجدید نظر څخه کار واخلي او خپل مخکني کارونه یو ځل بیا وګوري او بیا دې په نوو عملیاتو او جګړو باندې له سره کتنه وکړي.

د ۱۳۸۸ لمریز کال د سلواغي ۲۰ مه

http://www.bloguna.com/viqar/view/8451



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ